Pashto Version

# د دفاع وزارت د افغانانو د انتقال او بیامېشتېدنې په برنامه کې د درغلۍ او واقعیت خلاف څرګندونو په اړه پالیسي

| تېټه | فصل | تازه معلومات | نسخه |
|---|---|---|---|
| **12.06.26** | | | 1.3 |

## سریزه

د دې پالیسۍ موخه د هغو معیارونو او کړنلارو ټاکل دي، چې له مخه یې د دفاع وزارت د افغانانو د انتقال او بیامېشتېدنې ریاست (DARR)  د افغانانو د انتقال او مرستې د پالیسۍ (ARAP) او د افغانستان لپاره د غبرګون د مسیر (ARR) له مخې، د اشخاصو لخوا د واقعیت خلاف معلوماتو، د واقعیت خلاف سندونو او د واقعیت خلاف شواهدو، یا د واقعیت خلاف څرګندونو وړاندې کېدل تشخیصوي او ورته رسېدنه کوی.

دا پالیسي د پرېکړې کولو حدود، د حکومتولۍ چوکاټ، او د پرېکړې کولو بهیرونه ټاکي، چې له مخه یې کېدای شي DARR د یوهٔ کس د شرایطو واجدوالی رد کړي، یا که مناسب وګڼل شي، د واجدوالي په اړه یې پخوانۍ پرېکړه بیرته واخلي، په هغو مواردو کې چې د واقعیت خلاف معلومات یا د واقعیت خلاف څرګندونې د شرایطو د واجدوالي له تاییدلو مخکې تشخیص شوي وي.

دا پالیسي باید د DARR **د شرایطو د واجدوالي د قضیو په ارزونه کې د شواهدو د ارزولو له لارښود** او د DARR د شرایطو د واجدوالي د لغو کولو د پالیسۍ سره یو ځای ولوستله شي. دا پالیسي داسې جوړه شوې چې په خپلواکه توګه دې د کارونې وړ وي او یوازې د دفاع وزارت لخوا د ورتیا پر ټاکلو تطبیقېږي، او د ورودي اجازې لپاره د یوهٔ فرد د مناسب والي د هر ډول وروستۍ ارزونې څخه جلا او مجزا ده.

دا لارښود په منحصر ډول د دفاع وزارت لخوا قضیو ته د رسېدنې په اړه پلی کېږي او د پروسې په وروستیو پړاوونو کې د نورو ښکېلو ادارو پر پرېکړو، چې ورودي مجوز یا مناسب والی هم پکې شامل دي، د تطبیق وړ ندی او نه یې هم د پرېکړو بنسټ جوړوي.

## د واقعیت خلاف معلوماتو، د واقعیت خلاف شواهدو او د واقعیت خلاف څرګندونو تعریف

د واقعیت خلاف معلومات، د واقعیت خلاف شواهد او د واقعیت خلاف څرګندونې هغو معلوماتو، سندونو او بیانونو یا مطالبو ته ویل کېږي چې یا د حقیقت سره سمون نه خوري او یا خو هم ګمراه کوونکي دي، که په صریح ډول وړاندې شوي وي او که د معلوماتو د حذفولو له لارې. دا مفاهیم له یو بله بېل دي، خو په ځینو برخو کې ګډ اړخونه لري.

a. معلومات یا شواهد کېدای شي هغه وخت د واقعیت سره سمون و نه لري، کله چې له حقیقي لحاظه ناسم وي.

b. معلومات یا شواهد کېدای شي هغه وخت گمراه کوونکي وي، که څه هم چې ناسم نه برېښي، چې د واقعیت خلاف تصور رامینځته کړي یا مهم حقیقتونه پټ کړي.

د واقعیت خلاف معلومات، د واقعیت خلاف شواهد، یا د واقعیت خلاف څرگندونې کېدای شي په قصدي نیت یا له قصدي نیته پرته رامینځته شي. یوازې دا تشخیص چې معلومات له حقیقت سره سمون نه لري یا دوکه ورکوونکي دي، په خپله د دوکې د احراز مستلزم نه دی.

د دې پالیسۍ د موخې لپاره، دوکه هغه چلند ته ویل کېږي چې پکې یو کس په قصدي توگه غواړي د دې لامل وگرځي چې بل څوک په داسې څه باور وکړي چې حقیقت نه لري. دوکه یوازې هغه وخت باید ثابته وبلله شي، چې د احتمالاتو د توازن پر بنسټ، د داسې ډول یوۀ قصدي نیت شواهد وجود ولري.

ټولې ارزونې باید په عادلانه او معقول ډول او د احتمالاتو د توازن پر بنسټ ترسره شي. پرېکړه کوونکي باید، د دوکې په اړه هرې پایلې ته له رسېدو وړاندې، دا خبره په پام کې ونیسي چې ایا ناسم یا گمراه کوونکي معلومات په معقول ډول، بې قصده تېروتنې، ناسم پوهاوي، یا معلوماتو او سندونو ته د نه لاسرسي له امله رامینځته شوي وي.

د واقعیت خلاف معلومات، د واقعیت خلاف شواهد او د واقعیت خلاف څرگندونې هغو معلوماتو، سندونو، بیانونو او مطالبو ته ویل کېږي چې حقیقت و نه لري یا گمراه کوونکي وي. په دې کې هغه ناسمۍ شاملې دي چې د قصدي دوکې، تېروتنو، یا د معلوماتو د حذفولو او نه وړاندې کولو له امله رامینځته شوي وي. د دوکې احراز د داسې شواهدو شتون ته اړتیا لري چې د گمراه کولو قصدي نیت ثابت کړي.

دوکه هغه عمل ته ویل کېږي چې په قصدي توگه د دې لامل گرځي چې بل کس پر داسې څه باور وکړي چې واقعیت نه لري.

ټولې ارزونې باید په عادلانه او معقول ډول او د احتمالاتو د توازن پر بنسټ ترسره شي. پرېکړه کوونکی باید، مخکې له دې چې دې پایلې ته ورسېږي چې دوکه ترسره شوې ده یا نه، دا خبره په پام کې ونیسي چې ایا ناسم معلومات د یوې غیر عمدي تېروتنې، ناسم پوهاوي او سندونو ته د نه لاسرسي له امله رامینځته شوي دي او که نه. پرېکړه کوونکی باید د اړوندو معلوماتو پر بنسټ خپل قناعت حاصل کړي چې په دې کتگورۍ کې د اړوندو موادو د شاملېدو احتمال یې تر نه شاملېدو ډېر دی.

د شواهدو ارزونه باید له مخکیني قضاوت پرته ترسره شي، او د دې پرېکړې پر مهال چې معلومات یا شواهد له حقیقت سره سمون نه لري او که گمراه کوونکي دي، ټول اړوند معلومات باید په پام کې ونیول شي.

## د واقعیت خلاف معلوماتو، د واقعیت خلاف شواهدو او د واقعیت خلاف څرګندونو ډولونه

دا لاندې له A تر E پورې مندرجې کټګورۍ او تر هرې کټګورۍ لاندې ورکړل شوې بېلګې یوازې توضیحي اړخ لري. موخه یې دا ده چې د واقعیت خلاف معلوماتو، د واقعیت خلاف شواهد او د واقعیت خلاف څرګندونو د بالقوه شاخصونو په یو شان پېژندنه او ارزونه کې مرسته وکړي. نه دا کټګورۍ او نه یې هم بېلګې بشپړې او هراړخېزې دي، او د هرې کټګورۍ یا شاخص شتون یا نشتون په تنهايي د شرایطو د واجدوالي د پرېکړې پایلې نه ټاکي.

### a. د واقعیت خلاف، جعلي یا بدل کړای شوي سندونه

په دې کې هغه سندونه شامل دي چې له قانوني صلاحیته پرته بدلون پکې راوستل شوی، جعل کاري شوي او یا بدل کړای شوي. بېلګې یې په لاندې ډول دي:

د هویت په جزئیاتو کې لاسوهنه (لکه د زېږېدنې نېټه، سن یا د هویت د کارتونو شمېرې)، جعلي تصدیق نامې او معرفي لیکونه، د هویت بدل کړای شوي سندونه او یا "فوټو شاپ شوي" — د نرم افزارونو په کارونې سره په انځورونو کې لاسوهنه کول، او داسې سندونه چې ادعا کېږي د رسمي مراجعو لخوا صادر شوي، حال دا چې هغو مراجعو دا اسناد ندی صادر کړي.

### b. ګمراه کوونکې یا له واقعي نظره ناممکنې ادعاګانې

دا هغه ادعاوې دي چې له تایید شوو معلوماتو، معمولو مهال وېشونو یا تثبیت شوو سوابقو سره په تضاد کې وي.

په بېلګو کې یې د کار یا زده کړې داسې سوابق شامل دي چې عملاً شوني ندي؛ د کورنۍ اړیکو اړوندې ادعاوې چې له بایومتریکو یا اسنادي شواهدو سره په تضاد کې وي؛ او د مېړه او مايني د اړیکو په اړه تکراري او یا یو له بل سره متناقضې ادعاوې.

### c. د اساسي معلوماتو حذفول

دا مورد د معلوماتو نه افشاکولو یا پټولو ته اشاره کوي چې د شرایطو د واجدوالي سره تړاو لري، په شمول د هغو معلوماتو چې ښايي د یوه کس د شرایطو او وضعیت ارزونه بدله کړي.

په بېلګو کې یې د هویت مهم معلومات یا د دندې او نقش اړوند جزئیات پټول، د پخوانیو پرېکړو یا د قضیو د پایلو په اړه معلومات نه افشا کول، او د پخوانیو غوښتنلیکونو یا د ملاتړ یا سپانسرشیپ د ترتیباتو نه افشا کول.

### d. له هویت څخه ناوړه ګټه اخیستنه یا د بل چا د هویت خپلول

دا موارد هغه وخت رامینځته کېږي چې یو شخص د بل چا هویت یا سندونه وکاروي، یا د داسې شخص په استازیتوب شواهد وړاندې کړي چې هویت یې په باوري ډول نشي تاییدېدای.

په بېلګو کې یې **د کارګرانو د ملاتړ واحد (LSU)** د شمېرو ناوړه کارول، د هویتي عکسونو نه مطابقت، او هغه اسناد چې له ادعا شوي شخص سره یې تړاو په باوري ډول نه شي ثابتېدلای، شامل دي.

**e. د بڼې پر بنسټ یا له نورو قضیو سره تړلي شاخصونه**

دا شاخصونه هغه وخت رامینځته کېږي چې د شواهدو هره برخه په جلا توګه ظاهراً د منلو وړ وي. خو د همغږۍ یا تکرار شوي ناسمې ځرګندونې له یوې پراخې بڼې سره تړاو ولري.

په بېلګو کې یې لاندې موارد شامل دي، خو یوازې په همدې مواردو پورې محدود ندي: په یو له بل سره نامرتبطو قضیو کې **د کارګرانو د ملاتړ واحد (LSU)** د شمېرو تکراري یا څو ځلیز کارول، تکراری یا ورته پېژندپاڼې، ستاینلیکونه یا د دندې لیکونه، او د اړیکو د ادعاوو داسې ډلې چې د عادي او پېژندل شویو کورني جوړښتونو څخه د پام وړ توپیر ولري.

پورته له A تر E پورې بیان شوې کټګورۍ او بېلګې یوازې د وضاحت لپاره دي او د ردولو لپاره بشپړ یا خپلواک دلایل نه جوړوي. پرېکړه باید یوازې پر دې بنسټ و نه شي چې یوه قضیه په ځانګړې کټګورۍ کې راځي، بلکې باید دا پالیسي په ټولیز ډول تطبیق کړای شي او د هر شخص ټول ځانګړي حقایق او شرایط په پام کې ونیول شي.

## د هرې انفرادي قضیې د خاصو شرایطو په پام کې نیول

د هرې انفرادي قضیې د شرایطو په پام کې نیولو سره، د دفاع وزارت د افغانانو د انتقال او بیامېشتېدنې ریاست DARR دا مني چې اشخاص ښايي په ستونزمنو شرایطو کې معلومات وړاندې کړي، لکه سندونو ته محدود لاسرسی، وېره، ذهني فشار، یا پر درېیمګړو اشخاصو تکیه کول شامل دي. له همدې امله، غوښتنلیکونه باید په عادلانه او معقول ډول وارزول شي، او د ارزونې پر مهال باید د انفرادي قضیې شرایط او ټول موجود اړوند معلومات په پام کې ونیول شي.

د واقعیت خلاف معلومات، د واقعیت خلاف شواهد او یا د واقعیت خلاف ځرګندونې ښايي په قصدي یا غیر قصدی ډول رامینځته شي. یوازې دا موندنه چې معلومات ناسم یا ګمراه کوونکي دي، په خپله د دې پایلې مستلزمه نده چې غوښتنلیک ورکوونکي د ګمراه کولو قصد درلود. د دې ټګلارې له مخې، د قضیو کارکوونکي باید د دوکې په اړه هر ډول پایلې ته تر رسېدو مخکې دا وارزوي چې آیا ناسم یا حذف شوي معلومات په معقول ډول د یوې سهوي تېروتنې، ناسم پوهاوي، یا معلوماتو ته د نه لاسرسي له امله رامینځته شوي دي او که نه.

د دې پالیسۍ د موخو لپاره دوکه هغه چلند ته ویل کېږي چې پکې یو شخص په قصدي ډول هڅه کوي بل څوک پر داسې څه باورمن کړي چې ریښتیا نه وي. د دوکې ادعا یا موندنه باید یوازې هغه وخت وشي، چې د احتمالاتو د توازن پر بنسټ، د داسې یوۀ قصدي نیت شواهد موجود وي.
د یوشان او متناسبې پرېکړې کولو د ملاتړ لپاره، DARR د شدت د شاخصونو یو منظم چوکاټ پلی کوي.

**a. د شدت د ټیټې کچې شاخصونه** هغو کوچنیو یا د ځانګړو شرایطو له امله رامینځته شویو ناسمو معلوماتو ته اشاره کوي چې د شرایطو د واجدوالي عمومي ارزونه نه زیانمنوي او د دوکې ښکارندویي هم نه کوي. دغه موارد باید معمولاً د وضاحت غوښتلو او د مناسبو سوابقو د ثبت او ساتنې له لارې حل کړای شي.

b. **د شدت د منځنۍ کچې شاخصونه** ښايي د اساسي حقايقو په تړاو د ناڅرګندتيا، ناسم پوهاوي يا جزئي ناسمۍ څرګندونه وکړي. په دې مواردو کې بايد متناسبې نورې پلټنې وشي، تر څو معلومه شي چې معلومات تاييد او يا ثابتېدای شي که نه.

c. **د شدت د لوړې کچې شاخصونه** د قوي شواهدو څرګندونه کوي چې د واقعيت خلاف معلومات يا څرګندونې وړاندې شوې دي، او ښايي داسې شواهد هم پکې شامل وي چې د قصدي دوکې د موندنې ملاتړ وکړي. د دې ډول شاخصونو د شتون په صورت کې، د لوړ پوړي چارواکي د بياکتنې لپاره د قضيې ارجاع مناسبه کېدای شي.

دا چوکاټ پرېکړه کوونکو ته دا توان ورکوي چې د سهوي تېروتنې، له قصدي نيت پرته د حقيقت خلاف معلوماتو وړاندې کولو، او قصدي دوکې تر مينځ توپير وکړي. په دې توګه ډاډ تر لاسه کېږي چې پرېکړې په منسجم او عادلانه ډول، او د احتمالاتو د توازن پر بنسټ د مدني اثبات له معيار سره سم ترسره شي.

که چېرې يو کس په ظاهره د خپاره شويو شرايطو د واجدوالي معيارونه پوره کوي، خو د خپل غوښتنليک د ملاتړ لپاره يې د واقعيت خلاف معلومات، د واقعيت خلاف شواهد او د واقعيت خلاف څرګندونې وړاندې کړې وي، په دې کې تر خپل کفالت لاندې ادعا شويو کسانو په اړه معلومات هم شامل وي، نو دا موضوع د شرايطو د واجد والي په ارزونه کې د يوۀ اړوند عامل په توګه په پام کې نيول کېدای  شي.

**پرېکړه کوونکي** بايد دا لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

a. ايا د واقعيت خلاف معلومات، د واقعيت خلاف شواهد يا د واقعيت خلاف څرګندونې د شرايطو پر واجدوالي اساسي اغېز لري او که نه؛ او

b. که د واقعيت خلاف معلومات، د واقعيت خلاف شواهد يا د واقعيت خلاف څرګندونې له ارزونې څخه ليرې او له پامه وغورځول شي، ايا غوښتنليک ورکوونکي د احتمالاتو د توازن پر بنسټ ښودلې ده چې د شرايطو د واجدوالي معيارونه پوره کوي او که نه، او

c. ايا د واقعيت خلاف معلوماتو، د واقعيت خلاف شواهدو يا د واقعيت خلاف څرګندونو حالات او ماهيت د واجدوالي پر پرېکړه د اغېز کولو قصدي هڅه څرګندوي او که نه.

د واقعيت خلاف يا ګمراه کوونکو معلوماتو ټولې بېلګې، په هغه صورت کې چې غوښتنليک ورکوونکی له نورو اړخونو د شرايطو د واجدوالي معيارونه پوره کوي، لزوماً د شرايطو د واجدوالي ردول نه توجيه کوي. خو که د احتمالاتو د توازن پر بنسټ د قصدي دوکې شواهد موجود وي، د طرحې د اعتبار او بشپړتيا د ساتنې لپاره د شرايطو د واجدوالي ردول موجه او مناسب کېدای شي.

دا ډول ټولې پرېکړې بايد د هرې قضيې د ځانګړو شرايطو پر بنسټ وشي او دلايل يې بايد په روښانه توګه بيان شي.

کله چې د واقعیت خلاف معلومات، د واقعیت خلاف شواهد یا د واقعیت خلاف څرګندونې وپېژندل شي، دا پالیسي په مساوي ډول تطبیقېږي؛ که معلومات:

- د اصلي غوښتنلیک ورکوونکي په اړه وي؛ یا
- د هغو اشخاصو په اړه وي چې اصلي غوښتنلیک ورکوونکي د غوښتنلیک د ملاتړ لپاره د کورنۍ د نژدې غړو یا د کورنۍ د اضافي غړو په توګه معرفي شوي وي.

د تر کفالت لاندې کسانو په اړه وړاندې شوي د واقعیت خلاف معلومات کېدای شي د اصلي غوښتنلیک ورکوونکي PA د شرایطو د واجدوالي په ملاتړ د وړاندې شویو د واقعیت خلاف معلوماتو په توګه وګڼل شي، او له همدې امله د شرایطو واجدوالی د عمومي ټاکنې لپاره اړوند بلل کېدای شي.

## د درغلۍ د تثبیت صلاحیت او تفویض شوې پرېکړه کول

د ARAP یا ARR له مخې د شرایطو د واجدوالي د ټاکلو صلاحیت د دفاع له وزیر سره دی. دغه صلاحیت د دفاع په چارو کې د دولت د وزیر او د افغانستان د بیامېشتېدنې د برنامې د مسئول دفاع وزیر له لارې عملي کېږي. دغه صلاحیت د ملکي خدمتونو لوړ پوړو چارواکو (SCS) ته سپارل شوی، تر څو په هغو واردو کې چې د غوښتنلیک ورکوونکو لخوا د وړاندې شویو معلوماتو کره والی یا بشپړتیا په اړه اندېښنې موجودې وي، یوشان او له قانوني پلوه په غښتلي او دفاعي وړ بنسټ تر سره شي.

پرېکړه کوونکي کولای شي د شرایطو واجدوالی رد کړي یا د شرایطو د واجدوالي د شته پرېکړې د بېرته اخیستلو سپارښتنه وکړي، که د احتمالاتو د توازن پر بنسټ دې پایلې ته رسېدلي وي چې د واقعیت خلاف معلومات، د واقعیت خلاف شواهد او د واقعیت خلاف څرګندونې وړاندې شوې دي او د واردو د شرایطو د واجدوالي پر ارزونه اساسي اغېز لري؛ په داسې ډول چې غوښتنلیک ورکوونکي نه وي ښودلې چې د شرایطو د واجدوالي معیارونه پوره کوي.

که د واقعیت خلاف معلومات د شرایطو د واجدوالي د معیارونو په ارزونه کې اساسي اغېز و نه لري، پرېکړه کوونکي باید بیا هم دا وارزوي چې ایا شته اوضاع او حالات د داسې قصدي دوکې څرګندونه کوي چې د دې پالیسۍ له مخې د اعتبار او بشپړتیا پر بنسټ د غوښتنلیک ردول توجیه کولای شي.

هر کله چې شواهد په قصدي ډول د ګمراه کولو نیت څرګند کړي، په داسې کچه چې د دې پالیسۍ له تعریف سره سم دوکه وبلله شي، او د درغلۍ جدي شاخصونه هم وپېژندل شي، په شمول د، خو یوازې پدې واردو پورې محدود نه دي، د اسنادو د جعل، د هویت د ناوړه کارونې، یا د همغږۍ د واقعیت خلاف څرګندونو قوي شواهد موجود وي، قضیه باید د DARR د قضیو د څېړنې په لاربښود کې د ټاکل شویو حاکمیتي ترتیباتو له مخې لوړې کچې ته راجع کړای شي. کله چې د چلند د شدت کچه یا بالقوه اغېز دا ایجاب کړي، قضیه باید د شرایطو د واجدوالي د رسمي پرېکړې لپاره تفویض شوي SCS ته راجع کړای شي.

د دې بهیر له مخې شوې پرېکړې باید په روښانه دلایلو ولاړې وي، د ټولو اړوندو شواهدو پر بنسټ وشي، او په داسې ډول ثبت شي چې وښيي څنګه دې پایلې ته رسېدلي دي چې شخص د اړوندې پالیسۍ له مخې د شرایطو واجد نه

دی. د ارجاع دغه لړۍ ډاډ ورکوي چې د درغلۍ تر ټولو جدي اندېښنې دې په مناسبه لوړه کچه و څېړل شي او پرېکړې دې د DARR د حاکمیت له غوښتنو سره سمې پاتې شي.

## د درغلۍ پر بنسټ د شرایطو د واجدوالي د ردولو د پرېکړې معیارونه

د پرېکړې دغه معیارونه هم د درغلۍ اړوندو دلایلو پر بنسټ د شرایطو د واجدوالي د ردولو پر پرېکړو او هم د شرایطو د واجدوالي د موجودې پرېکړې د بیرته اخیستلو پر پرېکړو تطبیقېږي، کله چې د واقعیت خلاف معلومات، د واقعیت خلاف شواهد او د واقعیت خلاف څرګندونې د شرایطو د واجدوالي د لومړنۍ پرېکړې تر کېدو وروسته وپېژندل شي.

د درغلۍ اړوندو دلایلو پر بنسټ د شرایطو د واجدوالي ردېدل یوه مهمه پرېکړه ده چې پر اشخاصو او، په اړوندو مواردو کې، د هغوی د کورنۍ پر غړو اغېز کولای شي. پرېکړه کوونکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې د داسې پرېکړې دلایل په بشپړ او روښانه ډول د افغانستان د دفاعي قضیو د مدیریت په سیستم (DACS) کې ثبت او مستند شي.

د سندونو یا معلوماتو د کره والي، اعتبار یا یوشان والي په تړاو، پرېکړه کوونکي باید لومړی دا وارزوي چې آیا شته نیمګړتیاوې یا نابرابرۍ په معقول ډول د سهوي او صادقانه تېروتنې، ناسم پوهاوي، یا په افغانستان کې د اسنادو او شواهدو د ترلاسه کولو د عملي ستونزو له امله رامینځته شوې دي که نه. په هغو قضیو کې چې د ټیټې یا منځنۍ کچې اندېښنې موجودې وي، چیرې چې مناسبه وګڼل شي، باید معمولاً اشخاصو ته د وروستۍ پرېکړې تر نیولو مخکې د نورو معلوماتو یا وضاحت د وړاندې کولو فرصت ورکړل شي. د دې بهیر موخه دا ده چې، د امکان په صورت کې، دغه ډول مسائل تر ردولو مخکې حل کړای شي.

د ردېدو د پرېکړې د ابلاغ پر مهال، پرېکړه کوونکي باید د پرېکړې دلایل او د پالیسۍ هغه برخه په روښانه توګه بیان کړي چې پر بنسټ یې وړتیا رد شوې ده. که اصلي غوښتنلیک ورکوونکي یا د کورنۍ کوم غړی د درغلۍ پر بنسټ رد شي، یا د هغه د وړتیا پخوانۍ پرېکړه په همدې دلیل بیرته واخیستل شي، د بیاکتنې غوښتلو حق نه لري.

## د توضیحاتو او دلایلو د وړاندې کولو حق

اصلي غوښتنلیک ورکوونکي PAs ته، یا په هغه صورت کې چې اصلي غوښتنلیک ورکوونکی وفات شوی وي، د هغوی د کورنۍ غړو ته باید معمولاً فرصت ورکړل شي چې د وړاندیز شوې پرېکړې په تړاو نور معلومات او یا وضاحتونه وړاندې کړي او یا خپل دلایل او څرګندونې مطرح کړي. ټول ترلاسه شوي اړوند معلومات، شواهد او څرګندونې باید د عمومي ارزونې د یوې برخې په توګه وڅېړل شي او په پام کې ونیول شي.

په دې ډول مواردو کې، د قضیو کارکوونکي مخکې تر دې چې قضیه خپلو ټیم مشرانو ته راجع کړي، باید د نورو معلوماتو غوښتنه وکړي. اړوند کسان به ۱۴ ورځې وخت ولري چې د معلوماتو غوښتنې ته ځواب ووایي. که چیرې د معلوماتو غوښتنې ته په دې موده کې ځواب ور نه کړل شي، پرته له دې چې استثنایي حالات شتون ولري، د قضیو کارکوونکي به دشته شواهدو پر بنسټ قضیه د پرېکړې کولو د مناسبې لارې له مخې لوړې کچې ته راجع کړي.